**د مسؤولیت د رفع کولو یاددښت:** دا شننه (تحلیل) یوازې د معلوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورې بدیل نه دی. دا تحلیل په بې پرې والي، ښه نیت او د داسې معلوماتو په کارولو سره چمتو شوی دی چې د سند چمتو کولو په وخت کې لیکوالانو ورته لاسرسی درلود. په یاد سند کې درج شوي معلومات ښایي د مخکینۍ خبرتیا پرته تغییر ومومي او د هغه د منځپانګې بشپړتیا یا کره والی نه شوتضمینولای. موږ ټولو لوستونکو ته په کلکه لارښوونه کوؤ چې د هر ډول ځانګړې قانوني مسئلې په برخه کې له متخصص حقوقي سلاکار سره سلا او مشوره وکړي.

## د اماراتي تقنیني اسنادو تحلیل

**1. د سند  سرلیک:**

**له عالیقدر  امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده سره د ټولو وزارتونو  او خپلواکو ادارو د بشري منابعو د رئیسانو د ناستې لنډ راپور**

**2.سریزه :**

**الف) د دې سند مبنا**

د دې سند مبنا د ۱۴۴۴ هـ.ق کال د جمادي الثاني د میاشتې ۱۷ نیټه د سه شنبې په ورځ د وزارتونو او خپلواکو ادارو د بشري منابعو رئیسانو ته د «اوسني نظام» د مشرتابه لارښوونې تشکیلوي.

**ب) د دې سند لنډیز**

د امارتي ادارو د بشري منابعو رئیسانو د  ۱۴۴۴ هـ.ق  کال د  جمادي الثاني په ۱۷ نیټه د "اوسني نظام" له مشرتابه سره وکتل. په دې ناسته کې د "اوسني نظام" مشرتابه  په   بېلابېلو موضوعاتو خبرې وکړې او د بشري سرچینو رئیسانو ته یې لازمې لارښوونې وکړې. دا ټول مسایل د دې تحلیل موضوع نه تشکیلوي ، بلکې هغه کوو چې د اوسني نظام د مشرتابه د وینا هغه برخه تحلیل کړو  چې په دې ناسته  کې یې ویلي وو(( **د جمهوریت ټول قوانین او مقررات لغوه دي. ځکه چې اسلام او شریعت هغه لغوه کړي دي. حتی یو کوچني  فرمان  ته هم د جمهوریت د قوانینو او مقرراتو د لغوه کولو لپاره اړتیا نشته، ځکه چې شریعت لا دمخه هغه لغوه کړي دي**))

**ج) د دې سند د تطبیق ساحه:** د قانون ټول مخاطبین

د) **هغه ادارې چې د دې سند د تطبیق مسؤلیت لري:** ټولې اماراتي ادارې.

**3. د دې سند تشریح او تحلیل:**

**الف) په دې سند کې مبهم موارد**

د جمهوریت د وخت د قوانینو او مقرراتو د لغوه کولو موضوع ته په اشارې سره د «اوسنی نظام» د مشرتابه شفاهی لارښوونو ترڅنګ چې تقنیني اړخ لري، د حقوق پوهانو او د حقوقي او قانوني مسایلو د شنونکو لپاره پوښتنې را ولاړې کړې دي، چې آیا د "اوسني نظام" د مشرتابه شفاهي لارښوونې په قانوني توګه د هغه د لیکلي فرمان په ډول الزامیت لري او که نه؟

د دې پوښتنې په ځواب کې باید وویل شي چې د امارتي ادارو اجراآت د پخوانیو قوانینو په هکله، سره توپیر لري، توضیح یې دا ده چې د ځینو ادارو اجراآت له پخوانیو قوانینو سره سم ترسره کېږي، مګر د بعضو نورو هغسې نه ترسره کېږي.

- ❖ **هغه کړنې چې د پخوانیو قوانینو سره سم ترسره کیږي، د بیلګې په توګه په لاندې ډول دي:**
  - اداري تشکیلات (وزارتونه، په ولایتونو کې د وزارتونو فرعي واحدونه، خپلواک ریاستونه، او نور) او د هغوی اداري کړنې، لکه څنګه چې په پخوانیو قوانینو کې تنظیم شوي دي، پرمخ ځي.
  - د ملکي خدمتونو د کارکوونکو اړوند مسایل، د هغوی حقوق او امتیازات، د ښاروالۍ اړوند چارې لکه استملاک، ودانول او داسې نور، او د مالیاتو او ګمرکي محصولاتو پورې اړوند چارې ، د لوړو زده کړوپورې اړوند چارې ، کار او ټولنیزو چارې ، روغتیا، ښوونې او روزنې اړوند چارې او داسې نور سکتورونه، هر یو د خپلو هغو اړوندو قوانینو سره سم پرمخ ځي چې په پخوانی نظام کې نافذ وو.
  - حتی د محاکمو شکلي اجراآت لکه د عریضو وړاندې کولو څرنګوالی، د دعوی ثبت کول، جلب، د جلسو تشکیل ، د استئناف غوښتنې او فرجام غوښتنی میعادونه او نورې بیلګې یې ، د پخوانیو قوانینو سره سم پرمخ ځي.

❖ **هغه کړنې چې د پخوانیو قوانینو سره سمون نه لري،** د حکمونو صادرول دي، قاضیان قضایاو ته د رسیدنې او د حکمونو صادرولو پرمهال، پخوانیو قوانینو ته هیڅ اشاره نه کوي، لکه مدني قانون، د مدني محاکمو د اصولو قانون، د سوداګرۍ اصولنامه، د سوداګریزو محاکمو د اصولو قانون، د جزا کود، د جزایي اجراآتو قانون او نور هغه قوانین چې جرمونه او مجازات تنظیموي.

❖ **د پخواني حکومت د قوانینو د بیا کتنې په اړه، د اوسني نظام د کابینې د ۱۴۴۳/۴/۲ هـ.ق- ۱۴۰۰/۸/۱۷ هـ.ش نیټې د (۹) ګڼې مصوبې (۱) جزء داسې صراحت لري:** ( امارتي وزارتونه او اداري مؤظفې دي چې د تېر حکومت هغه قوانین، فرمانونه، کړنلارې او لوایح چې شرعي او اداري ستونزې ولري، مشخص کړي او د کابینې غونډې ته یې بشپړ راپور وړاندې کړي.)

د دې مکتوب په اړه باید وویل شي چې:

**لومړی:** د "هغه قوانین، فرمانونه،..." کلمه داسې افاده کوي چې ټول قوانین شرعي ستونزې نه لري، مگر ځینې قوانین شرعي ستونزې لري چې باید مشخص شي او راپور يې د کابینې غونډې ته وړاندې شي.

**دوهم:** د تېر حکومت د ټولو قوانینو، فرمانونو، کړنلارو او لوایحو د مطابقت څېړل ډېر پراخه کار او وخت نیونکی دی ، پس، تر څو چې د قوانینو شرعي ستونزه مشخصه کیږي ، د دغو قوانینو پر وړاندې څه مکلفیت دی؟

**دریم:** دا چې د پخواني حکومت د قوانینو، فرمانونو، کړنلارو او لوایحو له شریعت سره د مطابقت څېړل یو تخصصي کار دی، آیا د امارت هر وزارت او اداره به وشي کولای چې دا کار تر سره کړي او یا دا کار هغو کسانو ته اړتیا لري چې په شرعي او قانوني چارو کې کافي تخصص، ظرفیت او وړتیا ولري او د مختلفو کمېټو په چوکاټ کې (د هر قانون د موضوع پر اساس) "د اسلامي شریعت سره د قوانینو د مطابقت د بیا کتنې عالي کمیټې" تر څارنې لاندې راټول شي او دې څیړلو ته چې کوم ډول اړتیا ده تر سره کړي ؟

**څلورم:** د ۱۴۰۰/۱۰/۹نیټې د ۵۱۲ / ۱۹۷ گڼې مکتوب چې د مولوی عبدالحکیم شرعی په امضاء د عدلیې وزارت له خوا صادره شوې دی ، په کې داسې لیکل شوی دي: (( د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د پورته یادې شوې مصوبې د (۱۴۴۳/۴/۲ هـ.ق - ۱۴۰۰/۸/۱۷هـ.ش نیټې (۹) گڼې مصوبې (۱) جز) د حکم څخه داسې استنباط کېدای شي، هغه قوانین چې شرعي اواداري ستونزې و نه لري نافذ او د تطبیق وړ دي. دا مکتوب په واضح ډول حکم کوي چې د جمهوریت ټول قوانین لغوه نه دي.

**پایله:**

پورته ذکر شوو مواردو ته په پام سره دې پایلې ته رسیږو چې د تېر حکومت قوانین، فرمانونه، طرزالعملونه او لایحې د ملغی یا نافذیدو له پلوه په نامعلوم حالت کې دي.

**ب) د دې سند سمون یا نه سمون (د قوانینو لغو) د نورو ورته امارتي اسنادو سره:**

دا سند د کابینې د ۱۴۴۳/۴/۲ هـ.ق - ۱۴۰۰/۸/۱۷ هـ.ش نېټې د (۹) گڼې مصوبې له (۱) جزء او د د عدلیې وزارت ۱۴۰۰/۱۰/۹ نېټې له ۱۷۹/۵۱۲ گڼې مکتوب چې دواړه پورته ذکر شوي سندونو سره سمون نه لري، ځکه چې د کابینې مصوبه د جمهوریت د ټولو قوانینو د لغوه کولو حکم نه کوي،مگر د جمهوریت د ځینو قوانینو بیاکتنه په گوته کوي، او په همدې ډول، عدلیې وزارت هغه قوانین چې دیني یا اداري ستونزه نه لري نافذ او د تطبیق وړ گڼي.

**4. احتمالي اغیزې:**

**د مسؤولیت د رفع کولو یاددښت:** دا شننه (تحلیل) یوازې د معلوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورې بدیل نه دی. دا تحلیل په ښې پرې والي، ښه نیت او د داسې معلوماتو په کارولو سره چمتو شوی دی چې د سند چمتو کولو په وخت کې لیکوالانو ورته لاسرسی درلود. په یاد سند کې درج شوي معلومات ښايي د مخکینۍ خبرتیا پرته تغییر ومومي او د هغه د منځپانګې بشپړتیا یا کره والی نه شوتضمینولای. موږ ټولو لوستونکو ته په کلکه لارښوونه کوؤ چې د هر ډول ځانګړې قانوني مسئلې په برخه کې له متخصص حقوقي سلاکار سره سلا او مشوره وکړي.

**.1 په مخاطبانو باندې احتمالي مثبتې اغیزې**

دا سند به هغه وخت مثبته اغیزه ولري چې د اسلامي شریعت سره د قوانینو د سمون د څېړلو لپاره ځانګړې کمیټې جوړې شي، او که جوړې شوې وې، باید پراختیا وموميي او کار یې ګړندی شي تر څو مخاطبین وکولای شي خپل شرعي او قانوني حقونه ترلاسه او په خپلو شرعي او قانوني مکلفیتونو باندې عمل وکړي.

**-2 په مخاطبانو باندې احتمالي منفي اغېزې**

د جمهوریت د ټولو قوانینو، فرمانونو، مقرراتو، لوایحو او کړنلارو لغوه کول پرته له دې چې مشخص کړل شي،کوم یې شرعي ستونزه لري او کوم یې نه لري، او پرته له دې چې بدیل قوانین د لغوه شویو قوانینو ځای ډک کړي، هیواد به په یوه قانوني تشه کې پرې دي او د هغې منفي اغیزې به مخاطبانو ته زیان ورسوي.

**.5 ستونزې او حل لارې:**

د بدیلو قوانینو له شتون پرته د جمهوریت د ټولو قوانینو، فرمانونو، مقرراتو، لوایحو او کړنلارو لغوه کول به په هېواد کې یوه قانوني تشه را منځته کړي او دا کار بې عدالتي رامنځ ته کوي چې په اسلامي شریعت کې په کلکه منع شوي ده.

د حل لار دا ده چې:

-1 "**د اسلامي شریعت سره د قوانینو د مطابقت د بیا کتنې ځانګړې کمېټې** " دې ژر تر ژره جوړې شي او بیاکتل شوي قوانین دې ژر تر ژره د توشیح لپاره د اوسني نظام مشرتابه ته ولېږل شي او توشیح شوي قوانین دې ژر تر ژره د عدلیې وزارت په ویب پاڼه کې د خلکو د لاس رسي لپاره نشر شي.

-2 "**د اسلامي شریعت سره د قوانینو د مطابقت د ارزونې لپاره ځانګړې کمېټې**" باید د شرعي او قانوني چارو له کارپوهانو او متخصیصینو څخه جوړې شي.

-۳ یادې ځانګړې کمېټې باید له شریعت سره د قوانینو د مطابقت او څېړنې لپاره یواځینۍ با صلاحیته مرجع وي، او دا کار باید ټولو وزارتونو او ریاستونو ته ونه سپارل شي، ترڅو په دې برخه کې له متضادو کړنو څخه مخنیوی وشي.

**.6 د ارلو په ویب پاڼه کې تحلیل شوي سند پورې اړوند اسناد:**

یاد سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) لخوا افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤولیت د رفع کولو یاددښت:** دا شننه (تحلیل) یوازې د معلوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورې بدیل نه دی. دا تحلیل په ښې پرې والي، ښه نیت او د داسې معلوماتو په کارولو سره چمتو شوی دی چې د سند چمتو کولو په وخت کې لیکوالانو ورته لاسرسی درلود. په یاد سند کې درج شوي معلومات ښايي د مخکینۍ خبرتیا پرته تغییر ومومي او د هغه د منځپانګې بشپړتیا یا کره والی نه شوتضمینولای. موږ ټولو لوستونکو ته په کلکه لارښوونه کوؤ چې د هر ډول ځانګړې قانوني مسئلې په برخه کې له متخصص حقوقي سلاکار سره سلا او مشوره وکړي.

یاد سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) لخوا افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.